دی بیا وایي چې دې جګړه کې چې امریکا بریالی شي ښه بـه وي؛ ځکـه امریکا کې دیمـوکراسي شـته؛ خـو شـوروي اتحـاد کـې اسـتبداد دی او د دوی په حاکمیت کې به څوک له کمونیستي فکره ها خوا، خبره څه چـې فکر هم نه شي کولای، بل خوا امریکا کې د بشر حقوق او د بیان آزادي.. شته.. نو د ده له نظره که امریکا د نړۍ د واحد حکومـت مشـر- شي، ښـه ژوند به وي، ازادي به وي، د بشر حقوق به نه وي تر پښو لاندې..

خو دوی نه وو ملامت

دغسې ډېر لیکوال وو چـې امریکـا ورتـه د بشـریت اوچتـه نمونـه وه، او د دوی تر چتر لاندې حکومت ورته په دنیا کې جنت ښکارېده، خـو زه دوی نه ملامتوم، ځکه هغه وخـت کـې امریکـا همداسـې ښـکاره کولـه، د بشـر- حقوق په کې ظاهرا خوندي وو، دوی غلامان آزاد کـړي وو، انسـان تـه یـې حقوق وکـړي وو، تـور او سـپین د قـانون لـه مخـې یـو ډول حقـوق لـرل او دیموکراسي په کې حاکمه وه، ځکه یې دغو لیکوالو ستاینه کوله.

د سید قطب نبوغ

خو د سید قطب شهید پر نبوغ باید اعتراف وشي، هغه په دغسې وخـت کې چې امریکا ډېـره سـتایل کـېده او د انسـانیت یـوه اوچتـه نمونـه وه، د امریکایانو وحشتونه رابرسېره کړل او ویې لیکل چې خلک په غلطه دي.. مرحوم سید قطب په داسې حال کې د امریکایانو وحشت ښکاره کړ چـې نور یې په ستاینو سترې وو، زه یې واقعا له دې درکه متاثر شوم.

سید قطب د تېرې پېړۍ په پنځوسمه لسیزه کې د امریکایي لیدلوري په اړه لیکـي:«دا یـو مـادي تمـدن دی چـې زړه او ضـمیر نـه لـري، دا تمـدن یوازې د آلو غږونه اوري او یـوازې د تجـارت پـه ژبـه خـبرې کـوي.. امریکـا ټول انسانیت په دغو تلو تلي».

دلته مرحوم سـید قطـب د امریکـایي تمـدن متریالیسـتیک اړخ تـه ځـیر کېږي او وایي چې روح په کې ځای نه لري او معنویات په کې ارزښـت نـه لري. دی همدا رنګه لیکي چې امریکا کې مینه، یعنې شهوت او یو جسد ته د بل جسد رسېدل دي، عمیق او روحي مفاهیم هلته نه شته.

شهید سید قطب د امریکایـانو وحشـت او جګړه پـال ذوق لـه ننـه ځلـور شـپېته کالـه مخکـې درک کـړی و، هغـه وخـت کـې چـې د غـرب سـتر فیلسوف، راسل یې د انسانیت نمونه او د بشري حقوقـو سـتر سـاتونکی بولي.. سید قطب لیکي:«نه پوهېږم ولې په دنیا کې داسې خرافـه خـوره شوې؟! دا چې امریکایان سوله خوښوي! امریکـایي پـه خپـل فطـرت کـې جنګي دی او جګړه خوښوي».

سید قطب ادامه ورکوي،

«د امریکایي انسان په وینه کې د جګړې او شخړې فکـر نغښـتی، دا یـې په اخلاقو کې ښکاري؛ او تاریخ دغه ډول دي. پـه لـومړي وار ځینـې ډلـې امریکا ته د استعمار، جګړې او شخړې لـه پـاره لاړې، هلتـه یـې پـه خپلـو منځو کې جګړې وکړې، بیا یې د دې سیمې اصلي اوسېدونکو سره جګړه وکړه، او تر اوسه یې د ختمولو له پاره جنګېږي.

بیا انګلو-سکسونیان له لاتینیانو سره وجنګېدل، بیـا د جـورج واشـنګټن په مشرۍ له انګلستانیانو سره تر آزادۍ وجنګېدل.

بیا د ابراهام لینکلن په مشرۍ شمال او جنوب په خپل منځ کې سره وجنګېدل او دا جګړه یې د غلامانو د آزادۍ جګړه وبلله، په داسې حال کې چې اقتصادي عوامل یې لرل. افریقایي غلامانو د شمال په توده هوا کې ګوزاره نه شوای کولای، نو جنوب ته لاړل. په جنوب کې خلکو په تیټ نرخ کار کاوه او شمال کې په اوچت، نو جنوبوال اقتصادي پر مخ لاړل، بیا شمالوالو د غلام د آزادۍ جګړه پیل کړه...».



سید قطب وایي، «مورِ دا هېره کړې چې امریکا او اروپا تر اوسه صلیبي روح لري او د اسلامي نړۍ د ختمولو له پاره په یوه صف کې ولاړ دي. زمورِ د ناخبرۍ دلیل دا دی چې ډېر داسې خلک راکې شته چې ځانونه یې غافل کړي او ډېرى مغرضین مو بې لارې کوي، دوی خلک داسې پوهوي چې امریکایان له «وروسته پاتې» او مظلومو ملتونو سره مرسته کوي، په داسې حال کې چې د اسلامي امت له زخمونو وینې خاځي او امریکا یې نندارە کوي، له دې سره سره ځینې داسې خلک شته چې په نیویارک کې د آزادۍ مجسمې په اړه غږېږي!».

سید قطب د صلیبي خیالاتو وړاندوینه کوي

له ننه څو لسیزې مخکې چې امریکا له اسلامي نړۍ سره کومه دښمني نه لرله او په اسلامي نړۍ کې هم د احترام په سترګه ورته کتل کېدل، سید قطب د امریکایي صلیبي تمو په اړه هېښنده خبرې کړې وې.

سید قطب وایي،«مورِ دا هېره کړې چې امریکا او اروپا تر اوسه صلیبي روح لري او د اسلامي نړۍ د ختمولو له پاره په یوه صف کې ولاړ دي. زمورِ د ناخبرۍ دلیل دا دی چې ډېر داسې خلک راکې شته چې ځانونه یې غافل کړي او ډېرى مغرضین مو بې لارې کوي، دوی خلک داسې پوهوي چې امریکایان له«وروسته پاتې» او مظلومو ملتونو سره مرسته کوي، په داسې حال کې چې د اسلامي امت له زخمونو وینې خاځي او امریکا یې نندارە کوي، له دې سره سره ځینې داسې خلک شته چې په نیویارک کې د آزادۍ مجسمې په اړه غږېږي!».

مرحوم سید قطب په خپل عمیق درک د امریکا اساسي ستونزې درک کړې وې، دا داسې ستونزې وې چې سترو مفکرینو او د غرب مشهورو فیلسوفانو ورته نه و پام شوی.

سید قطب د امریکایي انسان وحشت ښکاره کړی، دی وایي امریکایان فطري وحشیان دي. همدا رنګه په امریکا کې د جګړې شوق د اجګړې اوږده تاریخ په اړه یې لیکل کړي او د اسلامي امت په وړاندې د امریکا او اروپا صلیبي لیدلوری او زمورِ بې تفاوتۍ ته ځیر شوی.

دا هغه څه دي چې څو لسیزې وړاندې د هر چا سترګې پرې ړندې وې، ډېرو دا حقایق درک نه کړای شول. خو شهید سید قطب ورته متوجه و.

د سید خبرې رښتیا شوې!

یو څوک چې د یو ویشتمې پېړۍ په اوله او دویمه لسیزه کې اوسېږي، هغه ته د سید قطب لیکلې شوې وړاندوینې ژوندی تاریخ دی. اوس داسې څوک نه شته چې په دې خبرو کې شک وکړي.

آن د راسل فکري شاګرد او ستر مرید نام چامسکي هم د امریکایي انسان وحشت درک کړی، هلته یې د کپیټلېزم حاکمیت، د جګړې مینه او د انسان بې ارزښتي لیدلې، ځکه نن ښکاره پرې نیوکه کوي او د دې هر څه په اړه خلک ویښوي.

د سید قطب شهید پرونۍ خیالي خبرې، د نن ورځې مجسم تاریخ دی. کله چې امریکایانو د نړۍ په تاریخ کې تور او غیر قانوني زندان په کیوبا کې جوړ کړ او هر ورځ په کې انساني حقوق تر پښو لاندې کوي، اوس اړتیا نه شته چې څوک د سید قطب مرحوم د ویناوو او وړاندوینو له پاره دلایل وړاندې کړي..

په یوویشتمه پېړۍ کې چې مادي پرمختګ او ټېکنالوژۍ اوج ته رسېدلې، امریکایي انسان بې ګناه انسانان په کې په مختلفو شکلونو تعذیب کړل، له ښځو او آن بوډاګانو سره یې په زوره زناګاني وکړې، په مړو یې متیازې وکړې او د شپې په کورونو ننوتل او بې ګناه ملکیان یې ووژل..

په یو ویشتمه پېړۍ کې چې د انساني حقوقو د ساتنې اداره په کې ښې پرېمانه دي، د ملګرو ملتونو له لورې د بشر د حقوقو د خوندي کېدو نړیوال اعلان هم ټولو منلی او د جرمونو نړیواله محکمه هم شته، امریکایي انسان داسې وحشتونه وکړل چې کېدای شي د جهل تر ټولو تیاره عصر کې نه وي شوي.

اوس د سید قطب خبره رښتیا شوه، امریکا د اسلامي نړۍ په وړاندې خپل صلیبي تمې ښکاره کړې، افغانستان او عراق یې تباه کړل، د پاتې اسلامي نړۍ له زخمونو د دوی له املې وینې څاځي.

دوی په مختلفو سیمو کې خپل وحشت او بربریت ښکاره کړ، دوی داسې جرمونه وکړل چې د غربي تاریخ په منځنیو پېړیو کې به نه وي شوي.

امریکایي انسان چې ځان د پرمختګ نښه بولي، داسې وسلې استعمال کړې چې د بشریت پای ته رسولو پیغام لري. په دې ځای کې د امریکا د ملي امنیت پخواني مشاور هنري کسنجر دا وینا کفایت کوي چې«د درېیمې نړۍ د نفوسو کمول باید امریکا د بهرني سیاست اولویت وي!».

دا هغه څه دي چې سید قطب د تېرې پېړۍ په منځنیو کلونو کې ویلي وو، په داسې حال کې چې چا یې تصور هم نه شو کولای!

تلویزیون؛

بدترین وسیله برای سرگرمی اطفال !

الحاج رنځوروال دوکتور محمد عارف حسن زی
ترینر متخصص سرویس داخله و اطفال در انستیتیوت صحت طفل اندراگاندی

آیا تا حال می‌دانستید که تلویزیون بدترین وسیله برای سرگرمی اطفال شما است؟ دانشمندان با درنظر گرفتن تمام فعالیت های که یك طفل در طول روز انجام می‌دهد، توانستند آسیب‌زا ترین و بدترین کاری که ممکن است یك طفل انجام دهد را شناسایی کنند و آن چیزی نیست جز تماشای تلویزیون! مطالعات نشان می‌دهد، تماشای زیاد تلویزیون اثرات بسیار بدی روی صحت اطفال دارد و احتمال دچارشدن اطفال به یك عده امراض و مشکلات جسمی مانند چاقی، امراض قلبی، افسردگی و مشکلات رفتاری و گفتاری شوند. چندی پیش هم محققان پوهنتون لندن اعلام کردند که اطفال که بیش از 4 ساعت در روز را به تماشای تلویزیون اختصاص می‌دهند، با احتمال صد درصد بیش‌تر از دیگران ممکن است در آینده دچار حملة قلبی شوند.

در مقال مهم‌ترین آسیب هایی را که ممکن است در اثر تماشای تلویزیون به اطفال شما وارد شود، مرور می‌کنیم .

خطر اول :مرض استما:

شاید فکرکنید تماشای تلویزیون بهتر از بازی طفل در هوای آلوده بیرون از خانه باشد، اما اطفالی که بیش از 2 ساعت در روز مقابل تلویزیون می‌نشینند، با احتمال دو برابر بیشتر از اطفال دیگر ممکن است به مرض استما مبتلا شوند. این نخستین بار است که دانشمندان متوجه رابطه بین تماشای تلویزیون و امراض ریوی می‌شوند. آنها معتقد اند هرقدر یك طفل فعالیت بدنی بیشتری داشته باشد، به همان اندازه شش‌های او عملکرد بهتری دارند .

خطر دوم : خطر حملات قلب:

اطفال زیر 6 سال به دلیل اینکه زمان زیادی را مقابل تلویزیون سپری می‌کنند، ممکن است تا چند سال بعد در معرض ابتلا به مشکلات قلبی قرار بگیرند. محققان می‌گویند رگ‌های خون در اطفال مکتب که زیاد تلویزیون تماشا می‌کنند به سرعت باریك می‌شود که این عامل می‌تواند یکی از نشانه های ابتلا به فشار خون بالا و امراض قلبی باشد. در عوض اطفالی که روز یك ساعت فعالیت بدنی دارند وضعیت بدنی آنها بسیار سالمتر است. امروزه اطفال حداقل 2ساعت در روز را صرف تماشای تلویزیون یا بازی کردن با وسایل الکترونیکی مانند کامپیوتر می‌کنند و در عوض فقط 36 دقیقه فعالیت بدنی دارند. به ازای هر یك دقیقه اضافه‌ای که کودکان در برابر تلویزیون به سر ببرند، احتمال ابتلا به فشار خون در سال های آینده نزدیك به 10درصد افزایش پیدا می‌کند.

خطر سوم :بلوغ قبل از وقت :

از بین رفتن تعادل هورمونی: تلویزیون می‌تواند میزان ترشح هورمون ملاتونین را در بدن اطفال تغییر دهد که نقش زیادی در پیشگیری از بلوغ زودرس بازی می‌کند. این هورمون ساعت داخلی بدن را تنظیم می‌کند به طوری که هنگام روز میزان آن در کمترین مقدار و بعد از ساعت 8 شب به بیشترین مقدار می‌رسد اما نوری که از صفحه نمایش تلویزیون پخش می‌شود روی تولید هورمون ملاتونین تاثیر منفی گذاشته و به این ترتیب ممکن است ظهور علائم بلوغ را جلو می‌اندازد. دقیقا به همین دلیل است که بین اطفال امروزی و کودکانی که 30 سال پیش زندگی می‌کردند تفاوت‌های شگفت‌انگیزی وجود دارد .

خطر چهارم: مرض دیابت یا شکر خون :

در تماشای تلویزیون افزایش مصرف فست فود صورت میگیرد. اطفالی که بیش از 2 یا 3 ساعت در روز تلویزیون تماشا می‌کنند بسیار بیشتر از دیگران در خطر ابتلا به دیابت و امرض قلبی قرار دارند البته این موضوع چندان هم عجیب نیست. تلویزیون باعث می‌شود انسان‌ها زمان بیشتری را در مقابل آن صرف خوردن کنند که متاسفانه بسیاری از این غذاها فست فود و دیگر مواد غذایی ناسالم است. امروزه کل فعالیت‌های اطفال در 3 بخش خلاصه می‌شود. رفتن به مکتب ، خوابیدن و تماشای تلویزیون که در زمان تعطیلات وضعیت بسیار بدتر هم می‌شود .

خطر پنجم: ضعف سیستم محافظتی بدن:

صحنه‌های خشن و افزایش استرس: نمایش صحنه‌های خشن و جنایی از تلویزیون نه تنها تاثیر مخربی بر روحیه اطفال دارد، بلکه سیستم ایمنی بدن آن‌ها را نیز ضعیف می‌کند چرا که میزان ضربان قلب و فشار خون اطفال افزایش پیدا کرده و ترشح هورمون استرس هم در آن‌ها بیشتر می‌شود؛ این عامل همراه با ایجاد اختلال در ترشح بعضی هورمون‌های مهم مانند ملاتونین در بدن باعث ایجاد ضعف در سیستم محافظتی بدن و ایجاد جهش ژنتیك در سلول‌های اطفال شده و آن‌ها را در برابر بسیاری از امراض از سرماخوردگی گرفته تا آستما و سرطان آسیب پذیرتر می‌کند .

خطرششم :بی‌خوابی :

تلویزیون را در اتاق خواب نگذارید؛ تماشای تلویزیون بعد ازساعت 7 عصر به‌خصوص اگر همراه با تماشای فیلم‌ها و کارتون‌های خشن باشد، باعث بی‌خوابی اطفال می‌شود. تحقیقات نشان می‌دهد، اطفال با دیدن این برنامه‌ها نه تنها دیرتر به خواب می‌روند بلکه احتمال دیدن خواب های ترسناك هم در آن ها بیشتراست. کارشناسان علوم اطفال معتقدند، یکی دیگر از اشتباه‌های والدین قرار دادن تلویزیون در اتاق خواب کودکان‌شان است.

خطر هفتم :چاقی :

علت ان اشتهای زیاد از باعث تماشای زیاد و افراطی تلویزیون می‌باشد. محققان متوجه شدند پسران نوجوانی که قبل از چای صبح بازی‌های کامپیوتری انجام داده‌اند، اشتهای بیشتری دارند و در این وعده غذایی بیشتر از اطفال دیگر غذا می‌خورند این مطالعات باز هم ثابت می‌کند بین چاقی اطفال و زمانی که آن‌ها هر روز صرف تماشای تلویزیون، نشستن در پشت کامپیوتر و انجام بازی‌های کامپیوتری می‌کنند، رابطه وجود دارد. دانشمندان معتقدند این بازی‌ها می‌توانند تاثیر عمیق روی مغز و حالت روانی اطفال داشته باشد و آن‌ها را تشنه پیروزی و به دست آوردن پاداش کند. یکی از پاداش‌هایی هم که مغز همواره از به دست آوردن آن لذت می‌برد خوردن غذاست. هرقدر هم که این غذا شیرین تر یا چرب تر باشد، به همان اندازه مغز ما تمایل بیشتری به بهره مندی از آن دارد و به همین دلیل است که اطفال بعد از انجام بازی‌های کامپیوتری به‌طور ناخودآگاه علاقه بیشتری به غذا خوردن پیدا می‌کنند .

خطر هشتم :مشکلات گفتاری:

حبول صوتی بیکار می مانند؛ پدر و مادرانی که تلویزیون را ساعت ها مقابل اطفال خود روشن می‌گذارند، بدون آن که حتی آن را تماشا کنند، باعث ایجاد مشکل در رشد مهارت های زبانی فرزندان خود می‌شوند. محققان تعدادی ضبط صوت دیجیتالی را در کنار 329 کودك 2 ماهه تا 4 ساله قرار دارند تا متوجه شوند آن‌ها در طول روز چه لغاتی را می‌شنوند یا بیان می‌کنند. با انجام این کار مشخص شد که در برابر هر یك ساعتی که تلویزیون روشن است، کودکان 770 کلمه کمتر از پدر و مادر و دیگر اطرافیان خود می‌شنوند و کودکان کمتر حبول صوتی خود را به کار بگیرند. والدین معمولا 941 کلمه در هر ساعت به زبان می‌آورند اما زمانی که تلویزیون روشن باشد تعداد این کلمات به کمترین حد ممکن می‌رسد و حتی به‌طور کامل حذف می‌شود. همین موضوع نشان می‌دهد که قرار گرفتن در برابر تلویزیون یکی از عوامل تاخیر در گفتار اطفال است و باعث بروز مشکل در قدرت توجه و دقت آن ها می‌شود .

خطر نهم: اوتیسم :

تلویزیون باعث انزوای اطفال میگردد؛ تحقیقات نشان می‌دهد که رابطه مستقیمی میان ابتلا به اوتیسم و علاقه به نگاه کردن به تلویزیون در اطفال وجود دارد؛ تقریبا 40 درصد از اطفال که در ایالات متحده دچار اوتیسم می‌شوند علاقه بسیار زیادی به تماشای تلویزیون دارند. به‌نظر می‌رسد تلویزیون حس انزواطلبی را در اطفال تقویت کرده و مانع برقراری ارتباط اجتماعی بین آن‌ها و همسالان شان می‌شود. اطفال مبتلا به اوتیسم در ارتباط با دیگران به مشکل برمی‌خورند و شاید منزوی و گوشه‌گیر شوند. ایجاد اختلال در حواس پنج گانه مانند شنوایی و بینایی هم از دیگر علائم اوتیسم است .

خطر دهم: بروز روحیه پرخاشگری :

خطر دیگر که در نتیجهٔ نشرات لگام گسیخته تلویزیون ها خاصتاً در کشور عزیز اسلامی ما متوجه اطفال و نوجوانان می‌باشد همانا نشرات مبتذل، غیر اخلاقی و نشر صحنه های وحشتناك در بعضی از تلویزیون ها می‌باشد که تاثیرات مستقیم بالای روح و روان اطفال به جا می گذارد که این اطفال را در آینده پرخاشگر و یا ترسو بار آورده و بالای اخلاق شان تاثیرات منفی بجا می‌گذارد امیدوارم دولت و خاصتاً وزارت محترم اطلاعات وکلتور در زمینه اقدامات جدی به عمل اورند تا در اینده جلو این خود سری های مبتذل نشراتی گرفته شود تا اطفال نازنین ما که آینده سازان کشور غزیز ما هستند دچار مشکلات صحی و روانی نشوند . با عرض حرمت به خانواده های عزیز و گرامی و با درك مطالب که در فوق ذکر گردید امید بعد از این از تماشای زیاد تلویزیون نزد اطفال نازنین تان جلوگیری نموده و صحت و سلامت شانرابه خطر نیاندازید .و من الله توفیق

د هېواد او هېوادوالو د خير ښېګڼې لپاره د يو شمېر عام المنفعه پروژو مشورې

ليکوال: ډاکټر امير محمد منصوری

لاندې پروژې په آسانۍ سره د عملي کېدو او د لويو ګټو په لرلو سره د هېواد مقاماتو ته وړاند ی کېږي او هيله ده چې اړند نهادونه او افراد به يې د نورې مناقشې او عملي کولو په هيله ولولي. لکه چې ښکاري دغه مشورې په جزئياتو نه، بلکې يوازې ليست شوي دي او اهداف، د توجيه دلايل، ګټې او د عملي کېدو لارې يې په ډېر لنډ ډول بيان شوې دي. که اړتياوې او وغواړئ، د عملي کېدو بشېړ عملياتي پلان يې هم در ته تياروﻻی شو.

لاندې مثالونه د يو شمېر وړو پروژو نمونې دي چې په هېواد کې د خدای راکړيو نعمتونو په مرسته په کار اچول کېدای شي او پېچلو تخنيکي وړتياوو او په لوی پيمانه پانګه اچونو ته ډېره اړتيا نه لري.

۱. د کابل د ښار او د هېواد د نورو برخو د سر سبزۍ پروژې

کېدای شي چې د کابل د ښار د غرونو په لمنو کې د جوړو شويو ودانيو فاضله اوبه مهار، تنظيم او تصفيه شي. د د غو فاضله اوبو د تصفيې مرکزونه هم د کابل د سيند له پاسه جوړيدای شي. دغه تصفيه شوې اوبه به ښېرته د وړو ساده او ارزان بيه پمپونو له لارې، چې د لمريزې بريښنا په وسيله چليدای شي، ښېرته د غرونو پورتنيو څوکو ته پورته کېږي او د غرونو په اړخونو کې د ونو، ګلانو او شنيليو د اوبه کولو لپاره کار ځينې اخيستل کېدای شي.

دغه ډول د سرسبزۍ پروژې د هېواد په ډېرو سيمو او درو کې عملی کېدای شي؛ مثلا د سروبي د بريښنا تر بند لاندې چې کومې اوبه بهېږي، بيا تر درونټې پورې له دې اوبو هېڅ کار نه اخيستل کېږي. کېدای شي دغه اوبه تر بند لاندې مهار شي او په ډېرو ساده ويالو کې د سيند دواړو غاړو غرونو لمنو او يا څوکو ته و بهول شي. تر ساده ويالو جوړولو وروسته دې بيا هرځوک د خدای هيله ور واخلي، او هر څه چې يې په مخه ورتلل، د غرونو او غونډيو په اړخونو کې دې وکړي. دا کار په حشر، داوطلبانه کارونو او حتی ساعت تيريو کې هم ممکن دي. هغه اوبه چې د غرونو په لمنو کې استعمالېږي، ښېرته سيندونو ته را لوېږي، نو د اوبو د کموالي سبب نه کېږي. خو که فلس لرونکې، يعنې هغه ونې چې پانې يې د ستنې په شان وي، لکه: صبر، ناجو وکرل شي، نو هوا مرطوبه ساتي او په لوړو يا غرونو کې د اورښت له زياتوالي سره مرسته کولای شي.

دغه راز په هېواد کې د ډېرو اوبو بندونو غاړې وچې او سېږي وي، مثلا د سردی بند، درونټی بند، د تخار سيند، کجکی بند، او نور. په ډېره ارزانه بيه او ساده تخنيکونو سره يو يا دوه انچه اوبه د بندونو يا سيندونو په اړخونو کې د غونډيو او غرونو لمنو ته پورته کېدای شي او د سر سبزۍ لپاره کار ځينې اخيستل کېدای شي. د دغه ډول پمپونو بريښنايي اړتياوې خو اوس بې له کومو پېچلو تخنيکي سامانونو، د لمريزې ارزان بيه انرژۍ څخه تر لاسه کېدای شي. په کليوالو سيمو کې خلک همدغه ډول بريښنايي انرژي د کورونو روښانه کولو او حتی د زمکو د خړوبولو لپاره کاروي.

۲. د دولتي زراعتي زمکو څخه کار اخيستل

په هېواد کې پخوانيو حکومتونو يو کار کړی. هغه دا چې په ښارونو کې د ننه او هم د باندې ډېر عامه ملکېتونه شته، لکه: بلند آبه زمکې، ورشوګانې او حتی د بندونو په وسيله خړوبيدونکې زراعتي زمکې (د سرده د بند زمکه، جلال آباد د کانالونو زمکې او نور.) له بده مرغه چې دغه ډول عامه ملکېتونه بې استفادې ولاړ دي. نه پوهېږو چې مربوطه وزارتونه ور باندې خبر نه دي او که نورو ته منتظر دي چې وروبې ښيي، يايې د استفادې کولو امر ورته وکړي. دغه ډول عامه ملکېتونه که هر څه نه وي خو يوه وړوکې ملي هستي خو ده.

د غه زمکې خصوصي سکتور ته د اجارې ورکولو له لارې د فارمونو جوړولو لپاره په آسانۍ کاريدای شي. مثلا د سردې د بند خړوبيدونکې زمکه ۹۰۰۰۰ (نوي زره) جريبه ښودل شوې وه. که فرض کړو چې نيمه يې پاتې او د استفادې وړ وي، نو کېدای شي چې د لبنياتو د فارمونو لپاره خصوصي سکتور ته په اجاره ورکړل شي. په يوه لنډ تخمين سره به د کال لږ تر لږه تر ۱۵۰۰۰ ټنه پورې لبنيات توليد شي. برسېره پردې کېدای شي چې تر ۶۰۰۰۰ (شپيته زرو) پورې خوسيان او غواګاني پکې وساتل شي چې په شيدو او نورو محصولاتو برسيره به د وارداتي غوښو (چې اکثرا بې کېفيته وي) پر ځای به کله کله يو څه خپله تازه غوښه هم وخورو!

د دغه ډول پروژو لپاره معمولا د بوديجې نشوالی بهانه وي. اما دولت کولای شي چې له نړيوالو بانکونو څخه بې سوده قرضه واخلي او دغه ډول پروژې چې عايد يې معلوم وي او قرضه ېبرته تاديه کولای شي، په آسانۍ تمويل کړي-اما د خدای روی و منئ چې دغه پيسې د هغه چا په لاس ورنکړئ چې د خپل ولس په پيسو يې د کابل بانک له لارې د خپل ګرنټي شوی ۹۹ کلن سبا لپاره په دوبی کې قمارونه ووهل چې نتيجه يې د ولس په بد نامۍ سربېره د بانکونو دېوالي کېدو سبب شول!

د غزني د سرده د بند زمکې (همدا راز د هلمند د نهرونو زمکې) د جغدرو، او غوړ لرونکو حبوباتو لکه: سايوبين، لمر مخی او نورو د کر لپاره ډېرې مناسبې دي. که دغه ډول دولتي زمکې په اجاره ورکړل شي نو کېدای شي چې يو مقدار غوړي او بوره په هېواد کې د ننه توليد کړای شو. همداراز د څرمن پخولو صنعت، د ميوو دجوس جوړول او نور واړه صنايع نه کومه خاصه پانګه اچونه ايجابوي او نه کومی پېچلې تخنيکي وړتياوې غواړي. امنيتي ملحوظاتو ته په کتو سره، د ښارونو په نړدیو کې سيمې د تاسيساتو جوړولو لپاره شايد مناسبې وبرېښي.

که هګۍ له پاکستان يا ايران څخه را وړای شو، نو په خپله څه بلا وهلي يو چې د هېواد د ننه يې توليد کړو. د ټرانسپورټ د کرايې په سپما برسيره به د خوسا هګيو په ځای تازه وطن هګی وخورو.

۳. د وړو صنايعو د ترويج او تقويې له لارې داخلي توليد د زياتولو پروژې

دا چې کاغذ له بهر څخه راوړل شي او د کابل د کارتن جوړلو په کارخانه کې کار تن ځپنې جوړ شي، نو يو کار خو دی اما داخلي توليد نه دی. برعکس که ډېرې وړې کړو او سړک ور باندې جوړ شي، نو بيا يې داخلی توليد بللای شو . مهمه داده چې که موږ په خپله توليد و نه کړو، نو پاک خوا پاکې د تباهی کندې ته منتهي کېږو. اوس لا دومره وخت لرو چې په هېواد کې يو څه راکده سرمايه موجوده ده او اکثرا دغه سرمايه د وارداتي فرهنګ په تقويې لګېږي، نو يو ښه فرصت شته چې د د اخلي توليد لپاره يو څه وشي.

ډېر شيان کېدای شي له سره تر پايه داخلي توليدات وي، مثلا: صابون، د کالو مينځلو پوډر، شامپو، هګی، کانسرو شوې ميوې، د ميوو جوس، مربع، مسي پيپونه، د چدنو لوښي، غوړي، بوره، او په زرهاوو نور شيان شته چې په هېواد کې يی خام مواد شته او هم صنعتي پروسيس کول يې کومې خاصې ستونزې نه لري. د دغه او نور ډول مصنوعاتو هر يوه لپاره لازمه سرمايه او تخنيکي پوهه بې له کومی لوبې ستونزې تهيه

کېدای شي. د سهامي شرکتونو د تشويق له لارې يې پانګه هم تر لاسه کېدای شي. برېښنايي ستونزې يې د لمريزې انرژۍ څخه تر لاسه کېدلای شي. نو هغه څه چې پاتې کېږي اراده، دولتي حمايه، او لاس په کار کېدل دي! تر ټولو مهمه هغه چې پيسې لري دې ته وهڅول شي، چې د دوبۍ، امريکا او اروپا په عوض په هېواد کې پانګه اچونه وکړي؛ يوازې د کورونو او شهرکونو د جوړولو د کاروبار په ځای په توليد کې او د لوکسو پېښنۍ محصولاتو د واردولو په ځای په هېواد کې د ننه د غربيانه توليداتو په ساحه کې پانګه اچوونه وکړي. دولتي پاليسي هم بايد د غه ډول پانګه اچونې لپاره مشوق او بلکې فشار اچوونکې وي. برسيره پر دې ځينې درانده صنايع لکه : د شيشي جوړولو صنعت، هم په ارزانه شرايطو او کمو تخنيکي وړتياوو فعاليدای شي. اړتيا يې زياته ده او ګټه يې هم ډېره!

په تېره ميلادي اويايمه لسيزه کې د جرمني د هوخست د دوا جوړولو کمپنۍ په هېواد کې ډېرې باکېفيته دواګانې توليدولې، خو د ۱۳۵۷ د غوايي د غوبل له لاسه هر څه سره ګډوډ شول. اوس خو بيا د «سرو» په ځای د «برګو» دوران دی، نو باور لرو چې د هوخست کمپنۍ به په هېواد کې د طبي دواګانو توليد ته ډېر په آسانی زړه ښه کړي.

د لوی مصيبت مخنيوی: د طبي دواګانو کنټرول شوی داخلی صنعت تشويق يو حتمي امر او واردول يې حتی بايد بيخي منع کړای شي. له يوی خوا د دواګانو توليد ډېرلوی بازار لري- د پاکستاني، هندي ايراني او نورو کمپنيو بې کېفيته دوا ګانو سيل هېواد ته را روان دی. ډاکټران مو هم په بی کېفيته ارزانو دواګانو خوشحالېږي. برسيره پردې چې اړتيا زياته ده، ګټه يی هم ډېره ده او هره کمپنی به په ډېره خوشحالی دغه ډول انحصاري توليدي شرکت ته په هر وړشرايطو غاړه ږدي. بې کفيته دواګانو مو ولس ته تر ناروغيو ډېر تاوان رسولی دی. هر څه چې کېږي، د هوخست کمپنۍ يا بلې پېژندل شوې کمپنۍ ته بلنه ورکړل شي چې د دواګانو توليد په هېواد کې د ننه شروع کړي. برسيره پردې د طبي دواګانو واردول بايد دولتي انحصار وي نه يو آزاد بې پوښتنې بازار. که امنيت ستونزه وي نو، دومره ځای نه نيسي، دښارونو په څنډو کې په صنعتي پارکونو کې جوړيدای شي.

د اسهامو د شرکتونو د ترويج، تقويې او تشويق له لارې د پانګه اچونې پروژې

که زمور هر بالغ هېوادوال د وړځې يوه افغانۍ وسپمولي نو د کال به ۳۶۵ افغانۍ شي. که ټول ټال لس ميليونه (درېيمه برخه) هېوادوال دا کار وکړي، نو څه باندې درې نيم بليونه افغانۍ، چې د يوه کال تقريبا شپېته - اويا ميليونه ډالر کېږي، به سره را ټول شي. بيا نو هر څه وربانې کېدای شي- خو چې د اهليت، تقوی او زړه خوړی د اصل له مخې مو قيادت او حاکميت تعيين شي.

په دې ورستيو لسيزو کې مرستو او بې پوښتنې اعانو په هېواد او هېواد والو کې د استهلاک وارداتي فرهنګ او د «را کړه» ذهنيت د تباهۍ تر سرحده تقويه او تعميم کړی دی. وارداتي فرهنګ او د راکړې ذهنيت بايد چې د توليدي فرهنګ او «په خپل ځان بسيا او در واخله» په ذهنيت واوړي او د دغه بدلون لپاره د توليد د فرهنګ او توليدي وړتياوو تقويه يوه لزومه ده چې بايد کار ور ته وشي. د د ی لپاره يوه مشوره د با ظرفيته او نوښتګرو افرادو تشخيصول، تشويق او تقويه کول به يوه مهمه ستراتيژي وي. د ولايتو او هم په ملي سطحه داسې افراد او نهادونه تشخيص او تقويه شي چې د توليد د ظرفيتونو او فرصتونو په اړه نوښتګر ذهنيت او عقيده ولري. دغه کار د نويو ادارو د جوړولو له لارې نه، بلکې د خلاق فکر او د موجوده فرصتونو څخه د ښې استفادې د طريقو د تشويق او ملاتړ له لارې وشي. کېدای شي د اسهامو د را ټولو شويو مادي امکاناتو له لارې د وړو پروژو تمويل تر سره شي. د محلي توليداتو د خرڅ بازار پيداکونه، د اضافي کرنيزو محصولاتو ثانوي توليد (د ميو جوس، کانسرو، او نور)، د موسمي خوراکي موادو ساتنه، د ښه بازار پيداکونه، د باندينيو محصولاتو په عوض د د اخلي محصولاتو کارونه، او نور د دغسې وړو توليدي پروژو مثالونه کېدای شي.

۴. د شمسي انرژۍ وړې پروژې

لمر د خدای جل جلاله يو لوی نعمت دی چې زمور په ولس يې ښه لورينه شوې ده. غونډۍ يو بل نعمت دی چې د نشيب په لرلو سره د شمسي- پلانټونو د جوړېدو لپاره لوی خدای را په نصيب کړی دی. په هېواد کې د روانو اوبو مهارول او د برېښنا د توليد لپاره کارول له يوی خوا لويې پانګه اچونې ته اړتيا لري او له بلې خوا پېچلو تخنيکي وړتياوته. برسيره پردې، لويې پانګونې امينيت او له فساد څخه خالي، اهل، متقي او زړه سواند قيادت او حاکميت ايجابوي، کوم چې د هېواد والو يوه لويه هيله او غوښتنه وه او ده. بر عکس د لمريزې انرژۍ کوچني پلانټونه بيا هر چېرې جوړيدای شي. د هسپانيې د هېواد د پخوانيو P 5 او P10 له مثالونو څخه د وړو لمريزو پلانټونو د جوړولو لپاره ښه زده کړه کېدای شي. دغه لمريز پلانټونه کېدای شي يوازی د ورځې لخوا د اجرا کېدونکو کارونو لپاره استعمال شي او د شپې لخوا ودرول شي. کېدای شي په سلهاو زره د لمر د انرژۍ را ټولوونکې وړې شيشې په دښتو او د غونډيو په اړخونو کې ودرول شي او د ورځې شمسي- انرژي توليد کړای شي. بر سيره پر دې کېدای شي دغه د لمر انرژي د توربينونو د ګرزولو په شکل وکارول شي چې د شپې لخوا بيا دغه توربينونه بايد په غاز او يا ډبرو سکرو وګرزول شي، چې پدې ترتيب سره به د شپې او ورځې برېښنا توليدېږي.

مهمه داده چې دغه شمسي- پلانټونه بايد چې واړه وي او اعظمي يې تر لس ميګاواټه پورې د برېښنا د توليد وس ولري. پدې ترتيب سره به د لويې پانګونې او تخنيکي پېچلتياوو څخه مخنيوی وشي او هم هرچېرې په محل کې فعاليدای شي او هم به يې د زيان او خطر اندازه کمه وي.

پورته د يو شمېر توليداتو مثالونه دي چې په هر ډول شرايطو کې بې تاوانه رقابت کولای شي او هېڅ باندينی توليد يې مخه نشي. ډب کولای. اوسني د آزاد بازارنړيوال داعيان، طرفداران او قوتونه هم د خصوصي سکتور پلويان او د عامه پلان شوي سکتور مخالف دي- د دوی هم پکې ګټه ده او هم يې له فلسفې سره برابر کار دی. که مرسته يې نه کوله، نو له دښمنی خو به يې بې غمه يو!

۵. د کابل په ښار کې د کابل پر سيند د ښار د منځ سړک جوړولو پروژه

د کابل سند د کال په اوږدو کې اکثرا وچ وي نو کېدای شي د سند په امتداد د سند له تل څخه د پاسه د لارې او يا حتی تعميرونو جوړولو لپاره کار واخيستل شي او د سند په امتداد د اوبو د بهېدو لپاره کافي لويه مجرا پرېښودل شي. له يوې خوا به د ښار د مزدحمی برخې له زمکې څخه مؤثره ګټه واخيستل شي او ښار والی ته به ارزانه او بې بېې لار په لاس ور شي. برسيره پر دې به د ښاروالی لپاره د عايداتو يوه ښه منبع هم شي. د ښار د جنوب، شرق او غرب تر منځ به لويه لار پرانستل شي، چې سيخه او بی ځنډه ه به وي. کېدای شي له ښار څخه د عبور کوونکو لويو موټرونو او يا هم د برېښنايي ښاري بسونو د پروژې لپاره تخصيص شي.

تخنيکي ستونزه به يې د سند د تل استحکام وي، چې بايد په اساسي ډول ډيزاين او داسې طرح شي، چې د موټر لارو لپاره وړ او مناسب وي.

٦. د کابل د ښار د غرونو څخه د تونلونو په مرسته د ښاري سړکونو د جوړولو پروژه

د کابل ښار په منځ کې غزېدلي غرونه لکه: د آسمايي غر، د شيردروازې غر، د تلويزيون غونډۍ، د بالا حصار غر او نور کېدای شي دتونلونو د جوړولو له لارې د سړکونو ايستلو لپاره وکارول شي. د تونلونو د کېندلو څخه چې کومې ماتې شوې ډېرې تر لاسه کېږي، د ژغل جوړولو او سړکونو او تعميرونو جوړولو لپاره ارزانه او بې بېې محصول شي. تخنيکي ستونزه به په ډېرينو غرونو کې چې ودانۍ ور باندې جوړې شوې دي، د تونلونو کېندل وي. د نورې نړۍ يو دوه مجرب انجنيران کولای شي د ډيزان کار را ته وکړي.

رخصتي مو هم مجبوري ده

دکتور رحمت الله زاهد

زمونږ خو متأسفانه چې هر څه د بل چا تابع دي نو آيا د رخصتۍ ورځې هم د بل چا تابع کړو، مونږ دومره مجبوره يو چې رخصتي هم د بل چا په خوښه کوو، آيا مونږ د تجارت، راکړې ورکړې او سوداګرۍ پرته نور داخلي کارونه نه لرو چې د هغې ترسره کول راته اړين وي؟

شا او خوا پنځه کاله مخکې د کابل د هوا د ککړتيا په پلمه د جمعې د ورځې تر څنګ د پنجشنبې ورځ هم رخصت کړل شوه چې دا کار يوازې په کابل کې ترسره شو، د پنجشنبې د ورځې رخصتۍ د کابل د هوا د ککړتيا په له منځه وړلو کې خو مرسته ونه کړه او نه يې هم د ښار ګڼه ګوڼه ختمه کړله، البته د خلکو د کارونو په وروسته پاتې کيدو، د دولتي چارواکو د خوبونو په زياتېدو او په غريب هېواد کې د بې ځايه تفريح په ډېرېدو کې يې پوره پوره مرسته وکړه.

اوس د وزيرانو د شورا د پريکړې پر اساس د جمعې او شنبې ورځې بايد په ټول هېواد کې رخصتي وي او دا وار د دوو ورځو د رخصتۍ بهانه د لويو ښارونو د هوا د ککړتيا په راکمولو کې مرسته نه، بلکې د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د رخصتي سمون دی تر څو په راکړه ورکړه کې ځنډ او خنډ را منځ ته نه شي.

مونږ د جمعې له ورځې سره د پنجشنبې يا د شنبې د ورځې د رخصتۍ په شرعي او ديني اړخ باندې خبره نه کوو، ځکه په دې اړه په سعودي، کويت، اماراتو او نورو مسلمانو هېوادونو کې هم ډېر بحثونه شويدي او موافق او مخالف نظرونه په کې د علماوو شته، البته مونږ د هيواد د حالاتو په نظر کې نيولو سره له دغې مسئلې څخه بحث کوو.

آيا د افغانستان په څېر يو غريب هېواد چې د ځلورو لسيزو جګړو يې زيربناوې له منځه وړې دي، ملت يې د نړۍ تر ټولو فقير او غريب ملت دی، په دې هېواد کې استراحت او رخصتۍ ته ډېره اړتيا ليدل کېږي که کار او زيار ته؟

په دولتي ادارو کې اوس هم د مراجعينو کارونه پر وخت نه ترسره کېږي، دولتي کارکوونکي خپل وختونه په بې ځايه خبرو اترو، ساعت تېريو او رخصتيو تېروي، که يوه بله رخصتي پکې زياته شي، نو دا به د دې هيواد او ملت سره وفا وي که جفا؟

زمونږ خو متأسفانه چې هر څه د بل چا تابع دي نو آيا د رخصتۍ ورځې هم د بل چا تابع کړو، مونږ دومره مجبوره يو چې رخصتي هم د بل چا په خوښه کوو، آيا مونږ د تجارت، راکړې ورکړې او سوداګرۍ پرته نور داخلي کارونه نه لرو چې د هغې ترسره کول راته اړين وي؟

زمونږ په هېواد کې د نا امنيو، تلينونو، د لوړپوړو چارواکو د تلو راتلو او داخلي اختلافاتو له امله څومره ورځې رخصتي وي چې لا په اونۍ کې دوې رخصتۍ نورې هم زياتې کړو؟

په پوهنتونونو او ښوونځيو کې د ځوانانو څومره ورځې د ادارو د بې تفاوتۍ، د استاذانو د غفلت او د سيستم د کمزورۍ له امله ضايع کېږي چې په اونۍ کې به دوې ورځې رسمي رخصتي د هغوی تحصيلي او تعليمي بهير نور هم ټکنی کړي.

بلخوا دا د شنبې ورځ رخصتي خو به د جمعې د ورځې د رخصتۍ ختمولو ته کوم چل نه وي؟ ځکه هغه هېوادونه چې مونږ تری مجبوره يو، شنبه رخصت لري يا يکشنبه، نو هسې نه چې يو څه وخت وروسته په دې پلمه د جمعې رخصتي له منځه ويوړل شي او پر ځای يې يکشنبه رخصتي شي، ګويا له هغوی سره د معاملاتو په ترسره کولو چې اقتصاد مو نور هم پياوړی کېږي د يکشنبې رخصتي ته اړتيا ليدل کېږي.

له همدې امله زمونږ اساسي غوښتنه دا ده چې يوازې او يوازې په اونۍ کې بايد يوه ورځ رخصتي ولرو او هغه هم د جمعې ورځ، تر څو هم مو سوداګريزه راکړه ورکړه د نړۍ سره برابره وي او هم مو د خپل هېواد په ودانولو او د ملت د کارونو په ښه ترسره کولو کې مرسته کړي وي.

زمونږ هېواد ددې بېکاره چارواکو او مامورينو په شتون کې کار ته اړتيا لري، نه رخصتيو او وقفو ته!

ترس از مجهول

دکتور خالد سعد نجار
برگردان: سید هاشم سادات

روزی یک راننده ملی بس به طرف کار خویش راهی شد. در یکی از استگاهای موتر، شخصی قوی الهیکل به موتر بالا شد وگفت:"جونی بزرگ کرایه نمیدهد". برای اینکه راننده از نگاه جسمی ضعیف بود، کوشش نکرد جواب جونی را بدهد.

این مشکل هر روز تکرار میگردید، نه"جونی بزرگ" کرایه میداد و نه هم راننده جرأت گرفتن کرایه را میکرد.

راننده ناچار تصمیم گرفت که به یک کلپ ورزشی رفته از استاد خواست که برایش فن مبارزه وجنگ را بیاموزاند، تا با این هیولا مقابله نموده حق خویش را از نزد اش بگیرد. بعد از گذشت چند ماه، وقتیکه راننده از استگاه میگذشت،"جونی" به موتر بالا شد و مانند همیشه گفت"جونی بزرگ کرایه نمی پردازد". راننده در حالیکه به جنگ آماده گی میگرفت به طرف جونی نگاه کرده گفت: (جونی بزرگ چرا کرایه را نمی پردازد!؟). جونی ایستاده شد و گفت: (چرا که جونی اشتراک سالانه‌کرایه دارد.)

این گونه، همیش ترس از مجهول در شکل وهم به داخل ما راه پیدا میکند، و به آن سر خم کرده در اخیر میابیم که ما بطور کل عکس حقیقت بودیم.

ابو حامد الغزالی در مورد تعریف و فرق بین ترس طبیعی، و مرضی (عصبی) میگوید: "ترس درد و سوز قلب از بیم وقوع یک امر نا هنجار در آینده را گوید"

او ترس را به دو نوع تقسیم نموده است:

(ترس عادی): ترس از الله متعال، که دو بخش دارد: یکی ترس از عذاب اش، دوم ترس از ذات خودش. بخش اول: ترس تمام مخلوقات است، و بخش دوم: ترس علماء است.

(ترس نامحدود): این ترس که از حد زیاد است بد و نامیمون میباشد. انسان را به یأس و نا امیدی میکشاند، مانع کار اش میگردد، و سبب مرض، ضعف، دهشت و از بین رفتن عقل میگردد، و در بعضی موارد منجر به مرگ میشود، که این نوع ترس نکوهش شده است، چرا که آن یک سد و مانع است، و سبب نا امیدی، گوشه نشینی، جزع و فزع و در نهایت تسلیم شدن به آن میگردد.

پس ترس یک امر فطری است که در هر انسان میباشد و از آن در هیچ وقت دور شده نمیتواند، بلکه ترس یک قوت طبعی است که برای بقای جنس بشری لازم میباشد. از طرف دیگر این ترس یک چیزی میراثی است که نمیتوان از آن نجات یافت، اما باید بطور درست اش کنترول شد. از همین جهت، فامیل، جامعه، و تجارب فردی در کاهش و ازدیاد این امر تاثیر دارد، و میتوان گفت که ترس یک امر (نسبی) است که انسانها در آن از یکدیگر با در نظر داشت عوامل محیطی، جسمی، و روانی متفاوت هستند.

ترس از یک چیز مجهول و نا معلوم ترسی است که توجیه شده نمیتواند، این ترس سبب از بین بردن اعتماد به نفس میگردد، ما را در سایه نگه میکند، و ما را در جای خویش یخ زده برای سالهای طولانی استاد میکند.،برای ما تشویش می انداز که هرگز نمیتوانیم اهداف خویش را بدست بیاوریم، به ما میگوید که باید چپ و گونگه بمانیم، ما را از گفتن سخن دل خویش بطور آزادانه باز میدارد.

ما برای لذت بردن از زندگی به دو چیز نیاز داریم:

اول (تنظیم نمودن زندگی خود و ماحول خود): وقت خانه تنظیم شد- یعنی تنظیم مالی، زندگی خورد و بزرگ، رابطه فامیلی، رابطه با اولاد- افراد آن فامیل زندگی خوشی داشته میباشد.

وقتی یک کارمند رابطه خوبی با رئیس خویش داشت، ذهن اش آرام میباشد.،همین طور وقتی همه امور انسان منظم باشد، از زندگی لذت میبرد.

دوم (شجاعت): اکثرا ترس و بزدلی سبب دلتنگی و اندوه میگردد، انسان از مرگ میترسد، از فقر میترسد، از این میترسد که کدام بلای بالایش نیاید، از آینده میترسد، از ناکامی در کار میترسد؛ این ترس زندگی را بالایش تاریک میکند که از آن لذت نبرد.

ترس از یک امر نامعلوم و مجهول ریشه ای مشکلات است. وقتی اسباب غم دور باشد، باید خوشحال زندگی کرد، و -خدا ناخواسته- اگر با غم و اندوه مواجه شد، با شجاعت و صبر با او مقابله نماید. و اگر کسی از مصیبتهای زندگی هراس دارد، از اسباب و عوامل آن دوری کند، و کار خود را به الله متعال بسپارد، از شانه های خود بار ترس و هراس را دور کند، و به قضاء وقدر باور داشته باشد. الله متعال میفرماید: {وَإِن يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلاَ رَآدَّ لِفَضْلِهِ يُصَيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ} [یونس:107]

ترجمه: اگر خداوند زیانی به تو برساند، پس جز او هیچ کس نتواند آن را بر طرف کند، و اگر اراده ی خیری برایت کند، پس هیچ کس فضل او را باز نتواند داشت، به هرکس از بندگانش که بخواهد می رساند و او آمرزنده ی مهربان است.

هرگاه مومن به الله متعال توکل کند، در قلب اش چیزی از اندوه و غم باقی نمی ماند. روح و روان مطمئن داشته و ثابت قدم میباشد، برای دنیا طوری کار و تلاش میکند مثلیکه برای همیش در آن زندگی میکند، و برای آخرتش طوری میکوشد، مثلیکه فردا وفات میکند.

این زندگی یک مرحله گذشتنی است، و به این نمی ارزد که انسان خود را غرق غم و اندوه کند. شکی نیست که اندوه، تسلیم شدن به غم، و ترس از آینده تاریک، و زیاده روی در اندازه درد ها.چیزی است که زندگی را ضعیف میسازد، دست آوردها را کاهش میبخشد، سبب ازدیاد پریشانی ورنجها میگردد، پس با فشارهای روانی و رنج مبارزه باید کرد.

تو نمیتوانی پرنده های غم را از سر خود دور کنی، اما میتوانی که از لانه جور کردن بالای سر ات ممانعت کنی.

همیش در چیزی فکر کن که خوشحال ات میکند، و از چیزیکه رنج ات میدهد دوری کن.

از اینکه سر لشکر حیوانات اهلی باشی، بهتر است یک فرد عادی در گروه شیران باشی.

قطره های باران در صبحدم تو را نباید در فکر کردن طولانی اندازد: که آیا به وظیفه بروی یا نه.

ترس از مجهول به یکبارگی پیدا نمیشود، بلکه این مشکل از طریق تاثیر منفی خود برای مدت طولانی، بالای ما غلبه میکند، طوریکه ما نمیدانیم.

ایمان اندوه را از بین میبرد، و آن سرد کنند چشمهای موحدین است.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مژده برای علاقمندان کتاب

کتاب، دروازه ای است به سوی جهان گسترده دانش و معرفت. کتاب، همچون خورشید، فضای زندگی را روشن می کند و به همگان نور، شور و گرما می بخشد. کتاب، مثل باران بر سرزمین دل ها می بارد و اندیشه ها و کردارها را رونق، زیبایی و طراوت می دهد و انسان را به بلندای علم و دانش می رساند.
جمعیت اصلاح افغانستان به غرض بلند بردن سطح علمی ومعلوماتی هموطنان عزیز کتابخانه ی به نام سیدجمال الدین افغان را تأسیس کرده و این کتابخانه در خدمت شما عزیزان است و می توانید از این فرصت استفاده کنید. این کانون کتاب با بخش های:

- تفسیر و علوم قران
- حدیث و اصول حدیث
- فقه و اصول فقه
- تربیت و دعوت
- سیرت نبی علیه السلام و سیرت صحابه رضی الله عنهم
- داستان انبیاء علیهم السلام
- عقیده و فکر
- تزکیه و تصوف
- زن وخانواده
- اقتصاد
- طب
- انجنیری
- جغرافیه و تاریخ
- ادیان و مذاهب
- معاجم
- کمپیوترساینس
- ژورنالیزم
- زراعت و دامداری
- سیاست
- حقوق
- زبان و ادبیات
- روان شناسی
- جامعه شناسی
- دایرة المعارف
- شخصیت ها
- و...

استفاده از کتابخانه رایگان است

فرصتی است برای شما در تحقق آرزوهای شما؛ بیایید از این فرصت طلایی برای رفع عطش علمی خود استفاده نمایید و به بلندای علم و دانش قدم گذاریم.

اوقات استفاده از کتابخانه سیدجمال الدین افغان:
این کتابخانه از ساعت۸:۰۰ صبح – ۵ عصر در خدمت شماست

روزهای شنبه خاص برای خانمها

آدرس: خوشحال مینه؛ عقب بلاک های شاداب ظفر، کوچه اصلاح، کتابخانه سیدجمال الدین افغان. شماره تماس: ۰۷۰۰۱۷۲٤٥٦

مرکز تشخیصیه
لابراتوار طبی سفیر

Safir Medical Laboratories

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

آدرس:
کابل، منزل دوم سپین زر پلازه، نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹–۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ – ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

کابل د کارتن جوړولو فابریکه
Kabul Packages

د هر ډول او سایز کارتن جوړونکی

پته: د بگرامیو نساجي فابریکې څنګ ته د کابل د کارتن جوړولو فابریکه
تیلیفون: ۰۷۰۰۲۷۶۱۷۳ _ ۰۷۹۹۳۱۵۸۰۰ _ ۰۷۹۹۷۳۹۵۷۱
E-mail:kabulpackages786@yahoo.com

104.3 FM
رادیو صدای اصلاح

کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱٦ ساعت نشرات در شب و روز
شماره تماس: ۰۷۷۳۸۹۰۹۵۰